## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**26 سنبله _سال 1402**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


په یو شمېر ولایتونو کې له۴زرو زیاتو کورنیو سره مرستې شوې ---------------------------------- 1

برای 25 خانواده در ولایت تخارکمک شد------------------------------------------------------- 1

غزني کې لسګونه کورنیو سره نغدي مرستې وشوې ------------------------------------------- 2

بیش از 100 تن از افغانهای محبوس در پاکستان، از حبس آزاد شدند ---------------------------- 3

له پاکستان څخه سلګونه افغان مهاجر وطن ته راستانه شول -------------------------------------- 4

صد ها نفر مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند ---------------------------------------------- 4

به تعداد ۱۷۰ افغان از زندان های پاکستان آزاد شدند -------------------------------------------- 5

امارت: د پاکستان له زندانونو ۱۷۲ افغانان خوشي شوي ---------------------------------------- 5

د اسلامي امارت له بریا وروسته ۲۵ رسنیو تازه په فعالیت پیل کړی دی -------------------------- 6

د ۲۰۹ الفتح قول اردو څخه ۶۵۰ سرتېري فارغ شول ------------------------------------------ 7


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## په یو شمېر ولایتونو کې له۴زرو زیاتو کورنیو سره مرستې شوې

د وزارت ویب سایت



په ولایتونو کې د مهاجرینو چارو وزارت د دویمي واحدونو له لارې د وږي د ۱۸مې څخه تر ۲۳مې نېټې پورې د هېواد په ۱۳ ولایتونو کې څلور زره او ۳۸۲ کورنیو سره مرستې شوې.

یادې کورنۍ، چې د تېرو جګړو او طبیعي پېښو له امله په هرات، بادغیس، بلخ، ننګرهار، بامیان، قندهار، بدخشان، غور، کاپیسا، پروان، بغلان، لغمان او خوست ولایتونو کې بېځایه شوې وې د یادو ولایتونو د مهاجرینو چارو ادارو په همکارۍ د یو شمېر نړۍوالو همکارو مرستندویه بنسټونو له لوري هرې کورنۍ سره نغدي، خوراکي، روغتیایي او د سولرونو مرستې شوې.

## برای 25 خانواده در ولایت تخارکمک شد

ویب سایت وزارت



برای 25 خانواده رد مرزی و بی بضاعت در ولایت تخارکمک نقدی اداره کمیشنری عالی سازمان ملل متحد درامور پناهنده گان به تاریخ 22 سنبله توزیع گردید.
خانواده های یاد شده که منازل شان از اثر جنگ تخریب شده بود قبلا از طرف ریاست مهاجرین آن ولایت سروی شده بود.
کمک یادشده درسه کتگوری مبالغ 22 هزار و 600 ، 27 هزار و 500 و 48 هزار و550 افغانی بود که با نظارت ریاست امور مهاجرین آن ولایت توزیع شد.

## غزني کي لسګونه کورنیو سره نغدي مرستي وشوې

د وزارت ویب سایت




**د انساني مرستو د همغږۍ مؤسسې له لوري د غزني ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ ۹۰ کورنیو سره د وږي په ۲۳مه نغدي مرستې وشوې.**

**یادې کورنۍ چې مخکې د غزني ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لوري په ده یک، مقر، واغز ولسوالیو او مرکز کې سروې او مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې چې هرې کورنۍ ته ۶۱ زره او ۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.**

## بیش از 100 تن از افغانهای محبوس در پاکستان، از حبس آزاد شدند

ویب سایت وزارت



**172 نفر از افغانهای محبوس از محابس کویته کشور پاکستان، از قید آزاد و به تاریخ های 22 و 23 سنبله به کشور برگشت نمودند.**

به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار افراد یادشده به دلیل نداشتن اسناد قانونی مدتی دربند بودند که پس از رهایی از طریق مرز سرحدی سپین بولدک به وطن عودت و غرض کمک به سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.
منبع علاوه نمود که شماری از عودت کننده ها که به امراض مختلف مصاب بودند ، از جانب شبکه سلامت طور رایگان مورد تداوی قرار گرفتند و از جانب انجمن مهاجرین دنمارک آگاهی لازم در مورد مواد منفجره به آنها داده شد.

## له پاکستان څخه سلګونه افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت




**د قندهار ولایت د سپین بولدک له لارې ۶۵۰ تنه افغان مهاجر د ورې په ۲۴مه هیواد ته راستانه شول.**

**د سپین بولدک د مهاجرینو چارو آمر په خبره په یادو راستنېدونکو کې۹۰ کورنۍ، چې۶۵۰ تنه کېږي هېواد ته راستني شوي، چې د ثبت او راجستر وروسته ۴۷۰ تنه یې د مرستو د ترلاسه کولو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپیژندل شول.**

## صد ها نفر مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند

ویب سایت وزارت

**950نفر افغان مهاجر به تاریخ 23 سنبله از ایران به وطن برگشته اند.**
**به گفته آمر سرحدی اسلام قلعه، از جمله افراد مذکور که شامل خانواده ها و مجردین بودند ،562 نفرآنها نیازمند و آسیب پذیر تشخیص و غرض اخذ کمک، به دفترسازمان بین المللی مهاجرت معرفی و مواد غذایی و غیر غذایی را بدست آوردند.**

## به تعداد ۱۷۰ افغان از زندان های پاکستان آزاد شدند

رادیوآزادی




**تعدادی از افغانهای که اخیرآ در پاکستان بازداشت شده اند**

**وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان از آزادی بیش از ۱۷۰ افغان از زندان های پاکستان خبر داده است.**

**این وزارت در شبکهٔ ایکس، نوشته که ۱۷۲ زندانی افغان از اخیراً از زندانهای شهرکویته مرکز ایالت بلوچستان پاکستان آزاد شده بودند، به روز شنبه (۱۶ سپتمبر) به افغانستان بازگشته اند.**

**این در حالیست که اخیراً صدراعظم موقت پاکستان، به دستگیری مهاجرین غیرقانونی افغان در آن کشور دستور داده و تا اکنون صد ها افغان دستگیر شده اند.**

**به گفتهٔ فعالان، این افراد شماری زیادی از افغان های را نیز شامل می شود که اسناد قانونی سفر و یا اقامت در پاکستان را دارند.**

## امارت: د پاکستان له زندانونو ۱۷۲ افغانان خوشي شوي

د آزادي راډيو




د کراچۍ یو زندان

**په داسې حال کې چې په پاکستان کې پولیس اوس هم د افغان کډوالو نیولو ته دوام ورکوي د افغانستان د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د پاکستان له زندانونو د ۱۷۰ افغانانو د خوشې کېدو خبر ورکوي.**

دې وزارت پر ایکس(ټویټر) شبکې خبر ورکړی چې د بلوچستان ایالت د مرکز کوټې له زندان څخه ۱۷۲ تنه خوشې شوي افغان بندیان هېواد ته راستانه شوي دي.

د پاکستان سرپرست صدراعظم انوارالحق کاکړ په دې وروستیو کې په دې هېواد کې د دېروغیرقانوني افغان کډوالو د نیولو امر ورکړی او د راپورونو له مخې په دې ترڅ کې تراوسه سلګونه افغانان نیول شوي دي، خو د فعالانو په وینا، په نیول شویو کسانو کې ګڼ هغه افغانان هم شامل چې د سفر او په پاکستان کې د استوګنې قانوني اسناد لري.

## د اسلامي امارت له بریا وروسته ۲۵ رسنیو تازه په فعالیت پیل کړی دی

باختر اطلاعاتي آژانس




د هېواد د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو معینیت، د اسلامي امارت د حکومت په دوو کلونو کې ۲۵ نویو رسنیو ته جوازونه ورکړي دي.

د هېواد د  اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو چارو معین مهاجر فراهي د هرات د باخترآژانس خبریال ته وویل، چې اوسمهال په هېواد کې د دولتي او خصوصي رسنیو په ګډون ۳۶۴ صوتي او تصویري رسنۍ فعالیت لري.

نوموړی وایي، چې د دوو کلونو په بهیر کې ۲۵ نویو رسنیو ته جوازونه ورکړل شوي او په فعالیت یې پیل کړی او ګڼو رسنیو هم خپل فعالیتونه بند کړي، چې د عاید سرچینې یې له بهر څخه و خو اسلامي امارت کومه رسنۍ نه ده تړلې.

د هېواد د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو معین  وویل، چې هره هغه رسنۍ چې د اسلامي ارزښتونو، ملي ګټو او د خلکو له کلتور سره سم فعالیت کوي، د فعالیت اجازه ورکول کېږي او ملاتړ یې کوي.

هغه زیاته کړه چې د  یاد وزارت له لوري د رسنیو په څېر د یوټیوبرانو د فعالیتونو د تنظیمولو لپاره هم طرزالعمل جوړ شوی دی.

نوموړي د رسنیو اقتصادي ستونزو ته په اشارې سره وویل، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت هڅه کوي چې د رسنیو د بریښنا پاتې پیسې او مالیات کم کړي او خبریالانو ته د هویت کارتونو د وېش په اړه هم خبرې وکړې او ویې ویل، چې دغه پروسه په کابل کې روانه ده او له ولایتونو هم غوښتل شوي، چې خپل غوښتنلیکونه معینیت ته ولېږي.

## د ۲۰۹ الفتح قول اردو څخه ۶۵۰ سرتېري فارغ شول

باختر اطلاعاتي آژانس




د ملي دفاع وزارت اړوند ۲۰۹ الفتح قول اردو قوماندانۍ د ښوونيز مرکز له ۳میاشتني عقيدوي، پوځي او تکتيکي زده کړو څخه ۶۵۰ تنه سرتېري نن د يو لړ شاندارو مراسمو په ترڅ کې فارغ شول.

په دغو مراسمو کې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت ملا نور الله نوري د ۲۰۹ الفتح قول اردو قومندان، د شمال زون د ټولو ولايتونو واليانو، ګڼ شمېر مسوولينو او منسوبينو ګډون کړی و.

مسوولينو په خپلو ويناوو کې ياد فارغان خپلو مسووليتونو ته متوجې کړل او زياته يې کړه، چې اوسنی اسلامي نظام د خدای تعالی یو عظيم نعمت دی او ساتنه يې د ټولو افغانانو ګډ مسووليت دی، چې موږ او تاسو بايد په ګډه له دغه اسلامي نظام څخه ساتنه او دفاع وکړو.

په پای کې فارغانو خپل پوځي نمايشات او وړتياوې د مشرانو په شتون کې تر سره کړې او غونډه د برى ليکونو په ورکولو سره پای ته ورسېده.

د يادونې وړ ده، چې څو ورځې وړاندې هم د ۲۰۱ خالد بن وليد (رض) قول اردو له ښوونيز مرکز څخه ۹۰۰ سرتېري له عقيدوي، پوځي او تکتيکي زده کړو وروسته فارغ شوي وو.